محمد انور آخړ
۲۰۲۲/۰۴/۲۴

# د ښځو لیک لوست په اسلام کې (د نجونو زده کړې)

(شپږمه برخه)

**مقصر څوک دي، ښځې که سړي؟**

اوسمهال چې په هېواد کې د نجونو پر زده کړو د حجاب په پلمه بندیز لګیدلی دی، پوښتنه دا ده چې یوازې ښځې په حجاب کولو مکلفې دي که سړي هم څه مسؤلیت لري؟ سړي چې تل پر ښځو د پردې په اړه په سختۍ سره عمل کوي، آیا دوی پر خپلو ځانونو باندې د نامحرمو ښځو په اړه د الله تعالی احکامو ته تر کومه ځایه ژمن دي؟
پوهېږو چې ښځې او سړي په جنسي غرایزو کې ډېر توپیرونه لري، اړوند پوهان وایي چې د ښځې جنسي غرایز د سړي په پرتله تر نمایي کچې پورې دي، د ښځو په جوړښت او خټه (فطرت) کې شرم او حیاء نغښتې دي.
دا سړي دي چې د فتنې په لټه کې دي، کله چې سړي نامحرمو ښځو ته په بد نظر ګوري، نو فتنه رامنځ ته کیږي او د زنا لومړنی ګام پردیو ښځو ته په بده کتل دي، ځکه خو الله تعالی سړیو ته وړاندې له هغې چې ښځو ته د نور سورت په ۳۱ آیت شریف کې د ځان پټولو امر وکړي، سړیو ته د نوموړي سورت په ۳۰ آیت کې امر کوي چې نامحرمو ښځو ته ونه ګوري او له زنا ځان وساتي:
﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾

ژباړه:«مؤمنانو ته ووايه: چې خپلې سترګې (له نامحرمو) ټیټې وساتي او د خپلو شرم ځایونو ساتنه دې وکړي. دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده. په باوري توګه هغوی چې څه کوي الله پرې خبرېږي.» (نور: ۳۰)

د پورته آیت شریف، د شان نزول په اړه په تفسیر نمونه کې داسې راغلي دي:«په لاره کې د انصارو یو ځوان له یوې ښځې سره مخ شو چې هغه مهال ښځو خپل نازک ټکرونه د خپلو غوږونو شا ته اچول (چې طبعاً د ښځې غاړه او د سینې یوه برخه یې ښکاره کیدله) د هغې ښځې څېرې د ځوان پام ورواړاوه، او خپلې سترګې یې په کې ښخې کړې، هغه ځوان چې په لار روان ؤ، همداسې یې په هغې پسې کتل چې یوې تنګې کوڅې ته ورسید او ناڅاپې له دیوال سره ټکر شو، په دیوال کې له یوه هډوکي سره یې مخ ولګید او له مخ یې وینې روانې شوې.

کله چې ځوان په خود شو او ښځه ولاړه وه، ویې لیدل چې مخ یې ټپي او وینې یې پر کالیو او سینه باندې راغلې دي (خواشینی شو) نو ویې ویل: په خدای قسم چې زه به پیغمبر (ع) ته ورځم، چې دا پېښه ورته ووایم. هغه وو چې کله د پیغمبر (ص) سترګې پرې ولګیدې، ویې ویل: څه شوي دي؟ هغه پېښه ورته واوروله، نو په دې ځای کې همدا مبارک آیت نازل شو.»

له دې وروسته بیا هم په مدینه کې ځینو شریرو کسانو ښځې زورولې او د قرآن کریم په ښوونو یې عمل نه کاوه چې له امله یې ښځو او سړیو ته د احزاب سورت ۵۹ او ۶۰ آیتونو کې دویم ځل وویل شول چې پروني دې پر خپل ځان خواره کړي او که دغه بداخلاقه سړي اصلاح نه شول نو پیغمبر (ع) ته یې ویلي دي چې تا به د دغو منافقانو او اشرارو پروړاندې پورته کړو:

﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ۚ ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ ۗ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾

ژباړه:«ای پیغمبره! خپلو مېرمنو، لونو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې پر خپل ځان باندې د خپلو ټکریو پلوونه خواره کړي، دا ډېره مناسبه کړنچاره ده تر څو هغوی وپېژندلای شي او ونه ځورول شي. الله ښه بښونکی او مهربان دی.» (احزاب: ۵۹)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

﴿لَئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا﴾

ژباړه:«سره له دې که منافقان او هغوی چې په زړونو کې يې د (بې حيايي) مرض دی او په مدينه کې د دروغو خپروونکي منع نه شي، موږ به تا پر هغوی وګمارو، نو بيا به هغوی ستا سره په دې ښار کې استوګنه ونه کړی شي، مګر لږې ورځې.» (احزاب: ۶۰)

په دې آيت کې هغه سړي چې ښځې زوروي، د پيغمبر (ص) په لاس د سختې سزا ورکولو ويل شوي دي، د نوموړي آيت په تفسير کې مرحوم سيد سليمان ندوي (رح) وايي:«په دې آيت کې د مديني ځينو شريرو او منافقانو ته اشاره ده، چې هغه ميرمني به يې زورولې چې هغوی به د ځينو اړتياوو لپاره د خپلو کورنو څخه وتلې، کله به چې هغه شرير کسان د دغه بد کار له امله وترټل شول، نو هغوی به ويل چې موږ پر دوی د مينځو ګمان کړی ؤ. د دې تولنيزې بدی د مخ نيوي لپاره الله تعالی دواړو ته دوه حکمونه ورکړي دي، د شريرو او منافقانو لپاره يې دا حکم ورکړ چې که هغوی له دې کار څخه لاس په سر نه شي نو هغوی ته دې ور سزا ورکړی شي بلکې هغوی دې له ښاره وشړل شي.» (سيرت نبي (ص) شپږم توک ۳۰۱مخ)

ومو لوستل چې دا ځيني سړي دي چې ښځې زوروي، که سړي اصلاح شي او ښځو ته په بد نظر ونه ګوري د ښځو مخ پټولو ته هېڅ اړتيا نه پاتې کيږي، ښځو ته حجاب د سړيو د بدفعليو له امله رامنځ ته شوی دی، په ټولنو کې پرته له ځينو استثنايي پېښو، هېڅ يوې ښځې پر سړي باندې تېری نه دی کړی، لکه وړاندې چې وويل شول ښځې د فطري حياء سره، سره د سړيو په پرتله جسماً کمزورې دي او فطري جوړښت يې د سړيو په څېر ځواکمن نه دی:﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ ژباړه:«د سړيو درجه پر ښځو اوچته ده.» (بقره: ۲۲۸)
اوس چې ثابته شوه چې فتنه اچوونکي ځيني سړي دي، بايد چې ښځې له دې امله ملامتي نه شي، په ځانګړې توګه د ښوونځي پاکې او معصومې نجونې چې هېڅ ډول جرم يې نه دی ترسره کړی:«او هغه کسان چې بې ګناه مؤمنان او مؤمني ښځې زوروي، هغوی د تورلګولو د ښکاره ګناه پېټی په سر اخيستی دی.»
﴿وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا﴾ (احزاب:۵۸)
دا چې زموږ بحث د نجونو د زده کړو په هکله دی او د نجونو زده کړې حياتي ارزښت لري او په ټولنه کې د نجونو پر زده کړو پورې د انسانانو مرګ او ژوند تړلي دي، داسې چې که موږ په ټولنه کې ښځينه ډاکترې ونه لرو نو ډېرې ميرمني به خپل ژوند له لاسه ورکړي په ځانګړې توګه د زيږون پر مهال، زموږ په ليرې پرتو، کليو او باندو کې اوس هم د ښځينه ډاکترانو د نشتوالي له امله د زيږون پر مهال ميرمنې مري، چې د دغو ښځو د مرګ د مسؤليت لرې هغوی کسانو ته ورسيږي چې نه غواړي نجونې زده کړې وکړي او ډاکترانې شي، الله تعالی د ډاکترانو او قاتلانو په اړه د مايدې په سورت کې څه ښه ويلي دي:
﴿أَنَّهُ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا﴾

ژباړه:«چا چې يو انسان د وينې له بدلې، يا په ځمکه کې له فساد خورولو پرته، وواژه، داسې دی لکه ټول انسانان يې چې وژلي وي او چا چې د يو انسان ژوندی بچ کړ، داسې دی لکه ټولو انسانانو ته يې ژوند وربخښلی وي.» (مايده: ۳۲)

وګورئ! که زموږ خلک همداسې له خپل جهالت څخه کار واخلي او ښځې په تياره او جهالت کې پاتې شي، نو تل به پرديو هېوادونو ته احتياج او محتاج وو، که موږ د خپل هېواد او خلکو په نېکمرغی، سوکالۍ او پرمختګ کې هڅه او کوښښ ونه کړو او خپل دغه ناوړه جنګ ځپلي حالت ته په خپله بدلون ورنه کړو، الله تعالی به زموږ حالت بدل نه کړي همداسې به د جهل په تورتم کې پاتې وو:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾
ژباړه:«الله د يو قوم حالت نه بدلوي تر څو چې هغوی په خپله خپل حالت بدل نه کړي.» (رعد: ۱۱)

۱۴۰۱/۲/۳ل. ل
نور بيا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ